مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۴/۳۰

# د فتوی په باره کي مختصر بحث

(اته لسمه برخه)

تصوف په اسلامي عقایدو کي اساس لري؟

تر هرڅه مخکي باید ووایو چي تصوف، په مکه معظمه او مدینه منوره کي، چي اسلام له هغه ځایونو څخه خپور سوی دی، هیڅ ډول ریښه او سابقه نه لري او په بشپړه توکه، له اسلام څخه پردی مفکوره او مکتب دی. د مکي اوسېدونکي عرب تقریباً ټول بت پرستان ول او د ګوتو په شمار ځینو کسانو نه یوازي د بُتانو عبادت بد او ناروا باله بلکه د توحید تبلیغ یي کاوه او ځینو یي پسله مرګه ژوند او حساب او کتاب ته عقیده درلوده.

له هغي جملي څخه زید بن عمرو بن نفیل وو چي یوه ورځ یي د کعبي مخي ته خلکو ته وویل  اي خلکو زما خواته راسی چي یوازي زه د ابراهیم په دین یم. هغه وویل له امیه بن ابی الصلت څخه مي اورېدلي دي چي ویل یي: آیا په هغه ورځ چي کارونه وپشل کیږي زه یوه پروردګار او که زرو خدایانو ته عقیده ولرم. د قیامت په ورځ به د الله په نزد، له حنفی دین څخه پرته، نور ټول دینونه بهتان او افتراء وي.

او دا هم د زید له اشعارو څخه دي چي ویل یي د حساب په ورځ به، چي ټول انسانان حشرګاه ته ځي هیڅوک ستا نګهبان نه وي.

دغه راز قُس بن ساعده یو له هغو کسانو څخه وو چي پر یوه خدای او د قیامت پر ورځ یي عقیده درلوده. هغه یوه ورځ وویل زما دي د کعبي په خدای قسم وي چي هغه چي تباه سول بیرته ژوندي کیږي. قُس بن ساعده په یوه شعر کي وایی:

کلا بل هوالله الهُ واحد ******* لیس بمولودٍ و لا والِد

اعـــــــاد و ابـــــدی ******* و الیهِ المــــآب غــــدا

ترجمه: توبه مي دي وي چي خدای به شریک لري. بلکه هغه واحد الله دی چي نه له چا زېږېدلی او نه څوک ورڅخه زېږېدلي دي او موږ ټول به سبا هغه ته ستنیږو»

دغه راز عامر بن ظرب عُدوانی، چي د عربو له علماوو څخه وو وایي چي ما د مځکي پر مخ داسي څوک نه دي لیدلي چي ځانونه یي پخپله پیدا کړي وي. او هیڅ مخلوق مي نه دی لیدلی چي د صانع مصنوع دي نه وي او دنیا ته هیڅ راغلی مي نه دی لیدلی چي ولاړ نه سي او نه مي لیدلي دي چي له دردہ مړ کېدونکی دي دوا له مرګه را وګرځوي.

عامر دغه راز پر ځان باندي شراب حرام کړل او د شرابو په غندلو کي یي اشعار وویل. شهرستاني، توضیح الملل، جلد دوم  ص ص ۳۹۹-۴۰۲

داسي نور کسان هم ول چي، د اسلام له راتګ څخه مخکي، د الله پر وحدانیت باندي اقرار ول او د حشر ورځي ته یي عقیده درلودل. مګر د تصوف د مفکوري په باره کي هیڅ ډول سند نسته. او د حضرت رسول اکرم ص له بعثت او د قرآن له نازلېدلو څخه بیا د هجرت تر دریمي پېړۍ پوري د تصوف د مفکوري څرک نه لګیږي.

صوفیانو، خپل مسلک ته د اسلامي او کتابي رنګ ورکولو لپاره هم احادیث جعل کړل او هم یي داسي کیسي جوړی کړې چي ګویا تصوف هم د اسلام په صدر کي ریښي لري او هم یي له اسلام څخه مخکي آسماني کتابونو او پیغمبرانو کي سابقه درلودلي ده. صوفیانو په دی سلسله کي بي شمېره احادیث جعل کړي دي. دلته د زیاتو دغه راز احادیثو ته ځای نه لرو خو د تصوف د مسلک د یوه لوی شیخ او عالم هجویري یو قول به راوړو. هجویري، یا پخپله او یا د صوفیانو له خوا یو جوړ سوی حدیث راوړي او وایي چي  رسوالله ص وویل هغه څوک چي د اهل تصوف ږغ واوري او د هغوی ږغ ته لبیک ونه وایی هغوی د الله په نزد په غافلانو کي شمېرل کیږي. هجویري، کشف المحجوب ص ۲۴

دا حدیث خکه جعلي دی چي حضرت رسول ص په خپل ژوند کي نه د تصوف کلمه پر  خوله راوړې او نه دا کلمه په عربي ژبه کي ریښي لري. څرنګه چي صوفیانو وړیني جامي، چي په عربي ژبه کي صوف ورته وایی، اغوستلي نو اکثر محققین په دې عقیده دي چي د صوفی لقب به د هغوی د وړینو جامو او خرقو له امله هغوی ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ورکړه سوی وي. شیخ شهاب الدین سُهروردي ادعا کوي چي حضرت رسول ص وړیني جامي اغوستلي، حضرت عیسی ع وړیني جامي اغوستلي او موسی ع په کوه طور کي د رازونیاز په وخت کي وړین کمیس، وړین پرتوګ اغوستی وو او وړینه خولی یې پر سر وه او څپلی یې د خره له پوست څخه وې. او حسن بصري ویلي دي چي ده ۷۰ تنه هغه صحابه چي د بدر په غزا کي یې برخه اخیستې وه ولیدل چي وړینی جامي یې اغوستي وې. سُهروردي، عوارف المعارف ص ۲۴

صوفیان د دې لپاره چي خپل مسلک ته اسلامي رنګ ورکړي نو خپله سابقه پخپله حضرت رسول ص ته رسوي او د هغه له خولي جعلي احادیث نقلوي مثلاً: لا دین لهُ لمن لا شیخ لهُ یعني څوک چي شیخ نه لری هغه دین نه لري. دا حدیث په صوفیانو کي دونه مشهور دی چي بیخي یې منل سوی حقیقت بولي. په داسي حال کي چي حضرت رسول اکرم ص په خپل ټول ژوند کي د شیخ، پیر او ولي نوم پر خوله نه دی راوړی او نه د عربو او وروسته د اسلام په دین کي د شیخ مفهوم موجود وو. په دې برخه کي دونه احادیث جعل سوي دي چي که موږ زیات مثالونه ورکوو نو له موضوع څخه لیري کیږو.

د تصوف اصلي او محوري موضوع د انسان او الله ترمنځ رابطه ده او چي په دغه مسلک کي هرڅه مخي ته راځي هغه له دغه چوکاټ څخه نه وزي. ځکه چي د صوفي ژوند ټول پر ذکر، خلوت، خانقاه، له خلکو څخه پر لیري والي، تجرد او بالآخره ګدایی باندي ولاړ دی او دا ټول شیان له ټولني سره د انسان رابطه شلوي او یوازي انسان او خدای سره پاتیږي. په مقابل کي د شریعت پیروان له الله، کورنی، ټولني، سیاست، کاروبار او په اجتماعي ژوند پوري ټولو مربوطو شیانو سره ارتباط لري.

د شریعت له مخي، د انسان او الله ترمنځ رابطه یوازي د بنده او بادار ترمنځ ارتباط دی. حتی هغه څوک چي موږ د هغه له برکته مسلمانان یو، سرورکاینات یې بولو او تر ټولو انبیاوو راته افضل دی هغه هم د الله بنده وو. ټول مسلمانان شاهدي ورکوي چي « پرته له یوه الله بل الله نسته او محمدص د هغه بنده او رسول دی » نو چي سرورکاینات ص د الله د بنده حیثیت لري؛ په اسلام کي بل داسي څوک نه سي پیدا کېدلای چي تر هغه دي د لوړ مقام ادعا وکړي او که یې وکړي هغه طبعاً مسلمان نه دی. البته د محبوب الهی او معشوق الهی خبري او افسانې وروسته جوړي سوي دي. پخپله حضرت رسول ص هیڅ وخت دا ادعا نه ده کړې او په قرآن شریف کي هغه ته د خالق تعالی له خوا امر سوی دی چي خلکو ته ووایه چي زه هم ستاسي په څېر یو بنده یم او فقط رسول یا پیغمبر یم.

که څه هم چي صوفیان ځانونه د شریعت پیروان بولي او هر وخت شریعت ته پر طریقت باندي اولیت ورکوي مګر کله چي د هغوی خبری واورو نو پوهیږو چي هغوی له الله سره د داسي رابطي د ټینګولو او درلودلو ادعا کوي چي هغه په شریعت کي نسته یا د شریعت سره بیخي مخالفه ده. مخکي مو وویل چي صوفیان د خپل مسلک یا تصوف سابقه ان موسی ع ته رسوي او ډېر زیات صحابه صوفیان بولي او د همدغه مقصد لپاره یې احادیث جعل کړي او د قرآن شریف آیتونه یې غلط تعبیر کړي او تفسیر کړي دي؛ خو د هغوی دا ادعا بېځایه ده ځکه چي نه یې نظر او نه یې عمل د شریعت سره برابر دی. د صوفیانو رابطه له الله سره د عاشق و معشوق، د الله سره د نیژدې کېدلو، د هغه په ذات کي د فنا کېدلو او بالاخره د الله په ذات کي د ورکېدلو او باقي کېدلو رابطه ده. د حضرت رسول ص لپاره د الله د معشوق او محبوب اختراع هم د صوفیانو ده. صوفیانو وروسته د مجازي او حقیقي عشق موضوع طرح کړه او تر دې نامه لاندی یې داسي فکري او عملي اخلاقي انحرافات وکړل چي پر هغو باندي زیات او مفصل بحث دلته نه ځاییږي. ( که څوک له دې موضوع سره زیاته علاقه لري نو زما کتاب« تصوف او اسلام» ته دي مراجعه وکړي. هلته زه یو څه په تفصیل ږغېدلی یم ) په خلاصه توګه ویلای سم چي له الله تعالی سره له بنده ګی پرته د بل هر ډول رابطي درلودلو ادعا غیراسلامي ده.

کله چي حق تعالی پخپله وایي چي زه د اسمانونو او ځمکي نور یم او یا په قرآن شریف کي د هغه د ذات د کیفیت په باره کي صراحت سوی وي چي لیس کمثله شيءٍ یعني د هغه په څېر بل موجود نسته یعني موږ یې له بل هیڅ شي سره تشبیه کولای نه سو. نو چي کله یو وجود په دونه اندازه له موجوداتو او د موجوداتو له عقل څخه بهر وي چي هغه له هیڅ پېژندل سوي شي سره مقایسه کېدلای نه سي نو سړی به له داسي وجود سره څرنګه د میني احساس وکړي او څرنګه به لا له هغه سره بالاخره ځان داسي یو ځای کړي چي خپل وجود د هغه په وجود کي ورک او حتی ورسره یو کړي؟

د بنده او خالق ترمنځ د ارتباط او رابطي په اړه په قرآن شریف کي صراحت سوی دی:

و ما خلقت الجنَّ و الإنسَ الاّ لیعبدون. سورة ۵۱ الذاریات آیة ۵۶

ترجمه: انسانان او پېریانان مو یوازي د عبادت لپاره خلق کړي دي.

له دې مبارک آیة څخه په څرګنده ښکاري چي د انسان وظیفه یوازي عبادت کول او حق متعال ته د بنده ګی اظهارول دي. دلته نو نور اړیکي نه ځاییږي او ټولي نوری اړیکي د صوفیانو خپل اختراعات دي چي هغه له اسلام سره هیڅ اړه نه لری او هرڅه یا د یونان د فلاسفه و او یا د هندوانو د مذهب او معبدونو تر اغېزې لاندي ایجا سوي، د اسلام له دین او د عربو او ایران له کلتور سره ګډ سوي او داسي مفاهیم او افادې یې منځته راوړي دي چي پخپله صوفیان هم پکښي ورک دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

مولنا جلال الدین رومي نه یوازې یو ستر عالم بلکه د شعر او ادب د دنیا له نوابغو څخه وو. مګر کله چی د حق تعالی د ذات او وحدانیت په باره کي لیکنه کوي نو زه یقین لرم چي دی پخپله هم نه پوهېدی چي څه وایی: « د دښمنی عالم نسبت د دوستی عالم ته تنګ دیګ خکه چي د دوستی له عالم څخه تښتي څو د دوستۍ عالم ته ورسیږي. او د دوستی عالم هم تر هغه عالم تنګ دی چي دوستي او دښمني له هغه څخه هست سوي ده. او دوستي او دښمني او کفر او ایمان د دویی یا ثنویت مفهوم لري. ځکه چي کفر انکار دی او د منکر لپاره باید داسي یو څوک موجود وي چي له څخه منکر سي. او څوک چي پر وجود باندي اقرار کوي هغه هم باید داسي یو څوک ولري چي د هغه وجود ومني یا اقرار ورباندي وکړي. نو معلومه سوه چي یګانګي او بېګانګي دواړه د دویی ( شِرک) سبب کیږي. او هغه عالم تر کفر او ایمان او دوستی او دښمنۍ برتر او لوړ دی. او کله چي دوستي د دویي سبب کیږي او داسي عالم یا جهان سته چي هلته دویي ( دوه والی) نسته او مطلق وحدانیت دی. نو کله چي انسان دې نتیجي او مقام ته ورسیږي د دوستی او دښمنی څخه را ووزي ځکه چي هلته دا دواړه نه ځاییږي. او کله چي هلته ورسېدی نو له دویی څخه بېل سو. نو هغه لومړی عالم چي دویي ده او له هغه عالم سره چي اوس مو یاد کړ عشق او دوستي ده او هغه تر لوړ عالم پست او ادنی دی نو هغه نه غواړي او هغه عالم ته د ددښمن په سترګه ګوري » مولنا، فیه ما فیه ص ۱۹۳

زه مجبور یم چي د مولنا د کتاب اصلي متن هم دلته راوړم. امکان لري چي نور پوهان به یې په معنا وپوهیږي او ماته به رهنمایی وکړي:

« فرمود که عالم دشمنی تنگست نسبت بعالم دوستی زیرا از عالم دشمنی میگریزند تا بعالم دوستی رسند. و هم عالم دوستی نیزتنگست نسبت بعالمی که دوستی و دشمنی ازوهست میشود و دوستی و دشمنی و کفر و ایمان موجب دوییست زیراکه کفر انکارست و منکر را کسی می باید که منکر اوشود و همچنین مقِر را کسی می باید که بدو اقرار آرد پس معلوم شد که یگانگی و بیگانگی موجب دوییست و آن عالم ورای کفر و ایمان و دوستی و دشمنیست و چون دوستی موجب دویی شد و عالمی هست که انجا دویی نیست یگانگی محض است چون انجا رسید از دوستی و دشمنی بیرون آمد که انجا این دو نمی گنجد پس چون آنجا رسید از دویی جدا شد پس ان عالم اول که دویی بود وآن عشقست و دوستی بنسبت بدان عالم که این ساعت نقل کرد نازلست و دون پس آنرا نخواهد و دشمن دارد »

حسین بن منصور حلاج د حق متعال د ذات په تعبیر کي دونه ورک سو چي بالاخره یې د اناالحق یا زه حق یم ناره پورته کړه. حسین بن منصور د خپل دې کفر سزا ولیده او د اسلام د دین علماوو هغه اعدام کړ. صوفیانو وروسته د هغه د اناالحق نارې او دعوې ته داسي تعبیرونه جوړ کړل چي زه ګومان نه کوم هغوی به پخپله هم په قانع ول.

مولنا جلال الدین رومي، چي د حسین بن منصور له سختو مدافعینو څخه دی، د منصور د اناالحق له دعوې څخه یو عجیب تعبیر کوي:

« . . . کله چي منصور له حق سره دوستي نهایت ته ورسول نو د خپل ځان دښمن سو او ځان یې نیست کړ او د اناالحق ناره یې پورته کړه. یعني زه فنا سوم او حق باقي دی. او دا پخپله د تواضع او بنده ګی نهایت دی یعني هغه دی او بس. او تکثیر خو دې ته وایی چي ته ووایې چي ته خدای یې او زه بنده یم. نو د دې معنا خو دا ده چي تا خپله هستي ثابته کړه. او دا چي ته ووایې هُوَ الحق دا هم دویی( شِرک) یا د دوو وجود ته قایلېدل دي. ځکه کله چي انا ( زه ) نه وي نو هُوَ ( دی یا هغه ) ممکن کېدلای نه سي. نو منصور ریښتیا خبره وکړه چي انا الحق یې وویل. ځکه چي غیر له خالقه بل موجود نه وو او منصور فنا سوی وو نو بیا دا خبره حقیقت ده. . . » هغه کتاب هغه مخ

مولنا د منصور د خدایي دعوه د تواضع انتها بولي. ځکه چي منصور وویل زه حق یم یعني زه نه یم او یوازی حق موجود دی. مولنا د هُوالحق یا هغه حق دی کلمه هم شِرک بولي. ځکه چي هغه ته اشاره دا معنا لري چي ته باید موجود یې. د دې سفسطی معنا دا ده چي یا پخپله مولنا نه پوهیږي چي څه وایی او یا قصداً موږ غولوي او د خدایي هغه دعوه چي منصور کړې ده؛ ده ته یې هم اشتها ور ولاړه سوې ده.

دا عجیب منطق دي. منصور، بایزید بسطامي، ذوالنون مصري او ځیني نور صوفیان او اولیاء د ونه خودخواه او دونه مغرورو ول چي د انسانیت په قلمرو کي په هیڅ اوچت مقام نه قانع کیدل او بالاخره د انسان له مقام څخه د دونه لوړ والي غوښتونکي سول چي د خدایي دعوه یې وکړه او مولنا دې غرور او لېونتوب ته عجز، تواضع او د بنده ګی انتها وایي.

دا دعوه د صوفیانو نورو شیخانو هم کړې ده او په دې کتار کي په سلهاوو نور ولاړ دي. البته ټولو د منصور د اناالحق نارې ته، د مولنا په څېر پلمي جوړي کړي دي زه یقین لرم پخپله به هم د خبرو په معنا او تفسیر نه وي پوه سوي. له دې شیخانو څخه یو هم ابوسعید ابی الخیر دی، چي اسرارالتوحید کتاب ټول د هغه د کراماتو او معجزاتو په باره کي لیکل سوی دی. ابوسعید ته ځیني رباعیات هم منسوب دي، چي زه به یې درې مثالونه له ترجمې سره درته وړاندي کړم:

منصور حسین آن نهنگ دریا
کز پنبه تن کرد دانه جان جدا
روزی که اناالحق بزبان میآورد
منصور کجا بود خدا بود خدا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یو منصور حلاج پیدا سو چي نهنګ وو د دریا
له پنبې څخه د تن يي کړه د روح دانه جلا
هغه ورځ چي يي جاری سوه اناالحق ناره پر ژبه
منصور چیري وو په منځ کي ټوله خدای وو یک تنها

چشمم همه اشک گشت و جسمم بگریست
در عشق تو بی جسم همی باید زیست
ازمن اثری نماند این گریه ز چیست
چون من همه معشوق شدم عاشق کیست

سترګي ټولي سولی اوښکي او وجود مي په ژړا سو
ستا په عشق کي بېځانه بي وجود ژوند مي په خوا سو
زما اثر چي پاته نه سو دا ژړا دلته له څه ده؟
چي زه ټول معشوق معشوق سوم عاشق څوک دی سوال پیدا سو
ابوسعید په مخکنی رباعي کي لړترلړه د منصور د خدايي د دعوې په باره کي ږغیږي او د هغه دعوې ته یوه لاره پیدا کوي مګر په دې دوهمه رباعي کي ابوسعید پخپله د خدایی دعوه کوي او وایی چي دی ټول معشوق ګرځېدلی دی؛ نو دلته عاشق چیري دی.
رفتم بکلیسای ترسا و یهود
ترسا و یهود جملګي رو بتو بود
بر یاد وصال تو به میخانه شدم
تسبیح بتان زمزمه عشق تو بود
زه روان سوم کلیسا ته د یهود او د ترسا
که ترسا وه که یهود وو مخ د ټولو ستا پر خوا
ستا د وصل په یاد ولاړم بتخاني ته سوم دننه
د بتانو په تسبیح کي زمزمه د عشق وه ستا
د ابوسعید مطلب څه دی؟ د یهودو او ترسا کلیسا ته د څښي لپاره ځي؟ داسی به یي فرض کړو چي هغوی خو اهل کتاب دي او زموږ او د هغوی خدای یو دی؛ نو ځکه هغوی هم د یوه خدای پر لوري سجده کوله. اوس نو دلته بتخانه څه کوي؟ یو مسلمان زاهد بتخاني ته د څه لپاره ځي؟ او بیا هلته ګوري چي بتان ټول د الله د عشق زمزمه کوي. دا به د صوفیانو په مسلک کي هم ښې او هم روا خبری وي مګر له اسلامي شریعت سره په هیڅ صورت سر نه خوري. ما نه دي اورېدلي چي مُلایانو او دیني عالمانو د ابوسعید په وخت کي او یا د هغه له وفات څخه وروسته هغه په شِرک او کفر تورن کړی وي. زیارتونه ټول پر همدغو صوفیانو او قلندرانو، چي ډېر زیات، په خپل اقرار، مشرکین دي، جوړ دي او عوام، چي له خپل دین څخه خبر نه دي، د همدغو کسانو څخه مراد غواړي او د هغوی په نامه نذرونه کوي. دا د مُلایانو وظیفه ده چي خلک د دغو ځایونو له زیارتونو څخه منع کړي. ځکه چي د مشرک زیارت کول او د مشرک مقدس ګڼل پخپله په شِرک کي شریکېدل دي.
که ابوسیعد له بتانو څخه د الله زمزمه اوري او صوفیان یي د شعر اورېدلو ته سرونه غورځوي؛ مو لنا د خپل مرید او شاګرد حسام الدین چلبي له خولې، چي ده مثنوی د هغه په غوښتنه لیکلی دی، د خدای آواز اوري. معلومه نه ده چي د مولنا خپل دې څرګند شِرک ته څه رنګ ورکوي او څرنګه به يي دفاع کوي:
همچنین مقصود ازین مثنوی
ای ضیاءالدین حسام الدین تویی
مثنوی اندرفروع و در اصول
جمله آن تست و کردستی قبول
قصدم از الفاظ او راز تو است
قصدم از انشاش آواز تو است
پیش من آوازت آواز خداست
عاشق از معشوق حاشا کی جداست ( دفتر چهارم، ۷۵۴ تا ۷۵۹)

ترجمه: زما مطلب له مثنوي څخه بس ته يي
ضیاءالدین حسام الدین ته مي په زړه يي
مثنوي که څه فروع که څه اصول دي
ټوله ستا لپاره دي چي ستا قبول دي
له الفاظو مي مقصود ټوله ستا راز دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

چي ليکمه يې مطلب مې ستا اواز دی
ستا اواز پر ما د خدای آواز لګيږي
له عاشق څخه معشوق کله بېليږي.

د مولنا مثنوي، چي زموږ ملايان يې مثنوي شريف بولي، ټول له دغه راز واهي او غير اسلامي اظهاراتو او عقايدو څخه ډک دی. مولنا چي د شمس تبريز څخه د دايمي بېلتون په غم کي يې د شمس تبريز کليات وليکل. وروسته يې خپل د ميني داستان له صلاح الدين زرکوب سره پيل کړ؛ او کله چي يې د صلاح الدين جنازه په ډول او سرنا، چي په مخ کي يې مولنا نڅا کوله، خاورته وسپارله نو بيا يې له خپل بل شاګرد او مريد حسام الدين چلبي سره د ميني داستانونه پيل کړل او د هغه په مينه کي يې مثنوي وليکی البته د هغه اواز د خدای اواز وربانْدي لګېدی او سړی نه پوهيږي چي زموږ ملايان به د مثنوي شريف! دغو بيتونو ته په څه سترګه ګوري.

مولنا ملامت نه وو. هغه مينه د خپل پلار، سلطان العلماء بهاءالدين سلطان ولد، څخه په ميراث وړې وه. البته پلار يې د ميني په تشريح او توضيح کي، چي صوفيان ورته الهی مينه وايی دونه مخته ځي چي بديع الزمان فروزانفر د هغه د معارف په نوم کتاب د ترجمه کولو په وخت کي وايی چي مولنا سلطان ولد، دونه رکيک او سپک الفاظ استعمال کړي وه چي ما هغه ترجمه کولای نه سوای. جلال ستاري، په خپل کتاب عشق صوفيانه کي، د فروزانفر د ترجمي څخه استفاده کړې ده او دا وايد ووايو چي پخپله جلال ستاري د صوفيانو او په تېره بيا د هغوی د صوفيانه عشق مدافع دی او د مولنا بهاء ولد په باره کي ليکي چي کله بهاءولد د عشق په باره کي خبري کوي او کله چي ښکلا له ليدلو څخه مست سي نو دلته سرحد ورڅخه ورک سي او د دنيايی او اسماني عشق توپير نه کوي دلته نو هغه د دين باوری او دنيا داری او د عقل د نور او د عشق د اور څخه بې پروا سي او يوازي د عشق سېلاب دی چي د هغه په سينه کي پر خروښ راغلی وي او ټول شيان په ځان کي مينځي. ستاري د مولنا له قوله ليکي:

« د الله په عشق کي زما د وجود ټول غړي داسي مست او خوشحاله وي لکه د شهوت رانی ( جنسي عمل) په وخت کي چي د سړي د بدن ټول غړي خوښ وي»

« الله د خوند اخيستلو حاصل هر کونج ته وړی دی. يو څه يې د زمري په پوست کي، يو څه يې په بيزو کي يو څه يې په مرغانو، يو څه يې د ملايکو په نفسونو کي يو څه يې د ښځو په فرجونو کي يو څه يې د نارينه په ذکرونو کي يو څه مزه يې په ورځو او سترګو او يو څه مزه يې په کوناټيو کي يو څه مزه يې د ښځو په سينو کي ايښي وي.. . ګواکي هر چا د الله څخه يوه برخه وړې ده او په هر ځای کي ورسره مخامخ کيږي الحمدلله. هغه نجوني کي چي له خپلو مېړونو سره د مرغيو په دود چغيږي او د بېګانه لاس چي ورسي ريږدي. دا ټولي عشقنامي د الله ثنا وايي. زه وايم اې الله د عاشقو ناويانو په څېر درته ژاړم. ما له خپلي مزې څخه مه بې برخي کوه چي زه بل هيڅوک نه لرم« ستاري، ص ص ۱۹۱-۱۹۲

جلال ستاري د مولنا د پلار د کتاب د مترجم فروزانفر په حواله ليکي چي وايی د مولنا بهاءولد په عباراتو کي داسي رکيک الفاظ راغلي ول چي هغه د ترجمي نه وه نو ما ځای ځای ټکي کښېښودل. سره له هغه چي فروزانفر احتياط کړی او په نامناسبو ځايونو کي يې ټکي ايښي دي، د مولنا بهاء ولد کلمات هم د حياء او هم د نعوذبالله ويلو دي. ستاري ترجمي ته ادامه ورکوي: « څرنګه چي الله د ټولو مخلوقاتو محبوب دی ، هم د هغوی ټولو نارينه محبوب ، نايک ( نارينه جماع کوونکی، اقرب الموارد، شمس اللغات، جهاني ) او فاعل دی او هغوی ټول د هغه منکوحه، مفعول او مصنوع دي . . . » نعوذ بالله هغه کتاب ص ۱۹۲

زه يقين لرم چي زموږ مُلايانو صاحبانو به، چي يوازي يې په جوماتونو کي سبق ويلی دی، د مثنوي شريف! د پلار دغه کتاب نه وي لوستی. دا کتاب له دونه کفري کلماتو څخه ډک دی چي سړی يې په ترجمه کولو ګناه کار کيږي. زموږ مُلايان خو لا پرېږده؛ ما د فتاوی په هيڅ کتاب کي، چي زما سره يې تقريباً ۱۵ ډوله موجود دي، د مولنا په باب بحث او يا د هغه پر مثنوي باندي انتقاد نه دی لوستی. زه ښېر يقين لرم چي مفتيان به، سره له هغه چي اکثر يې د علامه لقبونه لري، د مولنا د پلار په دې کفري او له خالق تعالی سره د بې ادبيو په دې کتاب له سره خبر هم نه وي.

د صوفيانو ډېر مشهور کتاب، چي ډېر زيات کتابونه يې په شرح کي ليکل سوي دي د« ګلشن راز» په نوم يو مثنوي دی چي شيخ محمود شوسترې يا شوشتري ليکلی دی. په دې مثنوي کي ټول ناروا روا بلل سوي او بالاخره خبره بت پرستی ته رسيږي او هغه هم روا بولي؛ ځکه چي بُت هم د خدای مخلوق دی.

ما د دې مشهور مثنوي، چي نن څخه څه باندي ۷۰۰ کاله پخوا ليکل سوی، په باره کي د هيڅ مولوي يا مفتي فتوا نه ده اورېدلي او که وي نو لېرترلږه د افغانستان مُلايان نه په خبر او نه به يې لوستی وي. داکتاب، چي په صوفيانو کي ډېر زيات شهرت لري، له سره څخه تر پايه پوري د الحاد او کفر له کلماتو څخه ډک دی او د تصوف د مفکوري او عمل ټول ماهيت رسوا کوي.

د ګلشن راز کتاب، له سره تر پايه، له صوفيانه اپلاتو او غيرشرعي او ضد شرعي کلماتو او مفاهيمو څخه ډک دی. د اسلامي شريعت په باره کي د دې کتاب ماهيت له څو بيتونو څخه ښه څرګنديږي:

تبه ګردد سراسر مغز بادام
ګرش از پوست بيرون آوری خام
ولی چون پخته شد بی پوست نيکوست



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

اگر مغزش بر آری برکنی پوست
« شریعت» پوست، مغز آمد «حقیقت»
میان این و آن باشد «طریقت»
چو عارف با یقین خویش پیوست
رسیده گشت مغز و پوست بشکست
وجودش اندر این عالم نپاید
برون رفت و دگر هر گز نیاید

ترجمه : که له پوسته څخه اوم را ایستل کيږي
د بادام مغز به ټوله تباه کيږي
خو چي پوخ سي مغز هلته يې مزه وي
چي يې پوست ورڅخه وغورځوي ښه وي
شريعت پر پوست حساب مغز حقيقت دی
د دې دواړو په مابين کې طريقت دی
چي عارف و خپل يقين ته ورسيږي
مغز پوخ سي او پخپله پوست ماتيږي
په عالم کې يې وجود نور نه پاتيږي
نور بهر سو بيا هيڅکله نه ستنيږي.
دا نظم درې مخه دی او د ټول نظم ترجمه کول هم زما او هم د لوستونکو وخت ضايع کوي. خو د ټول نظم ماهيت دا دی چي شريعت د بادام د پوست او مغز يې د طريقت حيثيت لري. کله چي صوفي خپل اصلي مقام ته ورسيږي او د صوفيانو په اصطلاح پوخ سي په هغه وخت کې نو شريعت ته هيڅ ضرورت نه لري. او حتی شريعت داسي ورک سي چي بيا يې ستنېدل نسته.
اوس نو له صوفيانو څخه څوک بوښتنه وکړي چي په قرآن شريف کې خو شريعت ذکر سوی دی او د طريقت نوم خو نه په قرآن شريف او نه په احاديثو کې وجود لري؛ تاسي دا طريقت او عرفان او د عارف او صوفي کلمات له کومه راوړل؟
او کله چي د گلشن راز له شاعر شيخ محمودشبستري څخه د يې مخو هلکانو په باره کې پوښتنه کيږي نو شيخ له هلکانو سره مينه روا او طبيعي بولي او دا ځکه چي شيخ وايې ښايسته هلکان د خدای تعالی د حسن او ښکلا مظهر دی. شاعر، چي طبعاً به بچه باز وو، د ښايستو هلکانو يا شاهد په باره کې څه باندي څلور مخه نظم ليکي او په يوه ځای کې، چي د هلک ږيره تازه راغلې ده او د صوفيانو په اصطلاح خط يې څرگند سوی دی وايي:
رخ اينجا مظهر حسن خدايی است
مراد از خط جناب کبريايی است
رخش خطی کشيد اندر نيکويی
که از ما نيست بيرون خوبرويی
خط آمد سبزه زار عالم جان
از آن کردند نامش دار حيوان
ز تاريکی زلفش روز و شب کن
ز خطش چشمه حيوان طلب کن. گلشن راز ص ص ۴۹-۵۰
شاعر د خپل دې نظم په پای کې، چي ټول له يې مخي هلک سره، چي لا يې تازه ږيره هم راغلې ده، د مينې او عشق سپين سترگی او بې حيا بيان دی، لا هم پر مستي راځي او وايي:
گهی روشن چو آن روی چو ماه است
گهی تاريک چون خال سياه است
گهی مسجد بود گاهی کنشت است
گهی دوزخ بود گاهی بهشت است
گهی برتر شود از هفتم افلاک
گهی افتد به زير توده خاک
پس از زهد و ورع گردد دگر بار
شراب و شمع و شاهد را طلبکار.
د شيخ زړه د ښايسته هلک په صفت نه سړيږي. د ده لپاره ښايسته هلک هم مسجد، هم بتخانه، هم جنت او هم دوږخ دی او د هغه نوخط خوله د ده لپاره د حيات د اوبو چينه ده او بالاخره وايي چي کله زاهد له طاعت او بنده گی څخه ستړی سي بيا خو نو حتماً شراب، شمعی او له ښايستو هلکانو سره مينې ته ضرورت لري. او دا گواکي د صوفيانو د زهد او پرهيز او عبادت معراج او وروستنی مرحله ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د شيخ اوحداالدين کرماني، چي په نفحات الانس کي يي د کراماتو ډيري زياتي او د نه منلو کيسي راغلي دي، په باره کي ويل کيږي چي کله به د موسيقی په محفلونو کي پر مستي راغی نو د ښايستو هلکانوکميسونه به يي ورڅيري کړل او د هغوی پر سينو باندي به يي سينه موښله. جامي، ص ۵۹۰

او حدالدين کرماني په مستي کي دونه مخته ځي چي بالاخره د خدايی دعوه کوي:

علت ز احد باوحد امد حرفی

علت بگذار کاينک اوحد احد است. هغه کتاب ص ۵۹۲

له «اوحد» څخه «احد» په يوه توري جلاکيږي

«و» چي ليري کړی له ميانه نو تنها «احد» پاتيږي.

شيخ کرماني د «اوحد» او د «احد»، چي د حق متعال نوم دی او د هغه ذات په پيژندل کيږي، ترمنځ توپير يوازي د « و» په حرف کي ويني او وايی دا « و» ليري کړه. په هغه پسي مه گرځه. دغه کړی اوحد پخپله احد دی. د تعجب خبره دا ده چي مولنا جامي، چي تر اوسه يي مزار ته خلک د تبرک لپاره ورځی، څرنگه د دې بيتونو په راوړلو نه شرمېدی او لا يي څرنگه کرماني ته شيخ او ځانته مسلمان وايه؟

شيخ محمودشبستري هم، د نورو صوفي شيخانو په څېر، د منصور د اناالحق د دعوې دفاع کوي او وايي دا منصور نه دی چي اناالحق ناره يي کړې ده بلکه پخپله حق متعال دی چي دا ږغ يي کړی دی؛ ځکه چي دا دعوه د بل چا په وس کي نه ده.

اناالحق کشف اسرار است مطلق

جز از حق کيست تا گويد اناالحق؟

شيخ وايی کله چي يوې وادي ته وردننه سي هلته به وگورې چي هره ونه د اناالحق نارې وهي. کله چي ونه د اناالحق د دعوې حق لري نو انسان يي ولې نه لري؟

درآ در وادي ايمن که ناگاه

درختی گويدت « اِنّی اناالله»

روا باشد اناالحق از درختی

چرا نبود روا از نيک بختی. گلشن راز ص ۲۹

د گلشن راز کتاب د صوفيانو لپاره دونه مهم دی چي په بيتونو استنادونه کوي او د هغه پر شرح يي کتابونه ليکلي دي. د دې کتاب ډېر زيات بيتونه او حکمونه له شريعت سره مخالف دي؛ او دلته د زياتو مثالونو لپاره، ځای نسته.

شيخ محمود شبستري د بُت پرستی په باره کي لا تر ټولو نورو ادعاوو عجايبي کوي. دی وايی بُت د عشق او وحدت مظهر دی او چي څوک زنار وتړي دا پخپله د خدمت تړون دی. کفر او دين دواړه په هستی قايم دي ځکه نو توحيد عين بُت پرستي ده. څرنگه چي بت پخپله خالق پيدا کړی دی نو خالق چي هرڅه کړي دي هغه ټول ښه دي. شيخ وايي په هر بُت کي دننه يو روح دی او تر کفر لاندي ايمان پټ دی. شيخ په دغه مبحث کي له دغه قبيله يو عالم مزخرفات وايي:

بُت اينجا مظهر عشق است و وحدت

بود زُنار بستن عقد خدمت

چو کفرو دين بود قايم به هستی

شود توحيد عين بت پرستي

بدان کايزد تعالی خالق اوست

ز نيکو هرچه صادر گشت نيکوست

به زير هر بُتی جان است پنهان

به زير کفر ايمانی است پنهان. هغه کتاب ص ۵۴

دا ټول هغه افکار، عقايد، اشعار او ليکني دي چي په اسلام کي هيڅ ډول اساس نه لري. اسلام ټول پر شريعت ولاړ دی او د شريعت له چوکاټ څخه هيڅ وتلی شی نه مني. د شريعت د هر څرگند حکم څخه انکار کفر بولي او د شريعت د ظاهري احکامو رعايت يي لوی شرط دی. په داسي حال کي چي شيخ محمود شبستري شريعت د بادام پوست بولي. يعني په حقيقت کي نور ارزش نه لري او يوازيني وظيفه يي د مغز ساتل او پخول دي. موږ کله چي بادام وخورو پوستکي يي يا غورځوو او يا که ډېر ول نو اور په بلوو. په داسي حال کي چي د شيخانو او صوفيانو لپاره اصلي اهميت په طريقت کي پروت دی؛ او هغه ته د شريعت په مقابل کي د بادام د مغز په صفت قايل دي؛ چي نه يي په قرآن شريف او نه يي په احاديثو کي ذکر سوی دی.

پاته لري

په افغان جرمن آنلاين کي پورتال د ليکوال آرشيف



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ